ژبه او تاريخ :

# د بغلان په نامه کښي د پښتو ريښې

په ژبنيو پلټنو کښي د ځايو او سړو پخواني نومونه او د هغو د ريښو څېړنه او شننه (تحليل) په زړه پوري او ګټور کار دئ، چي ډېر ژبني او تاريخي حقايق څني ښکاره کيږي، او کله کله د يوې کلمې تحليل او تجزيه سړی و خورا مهمو تاريخي نتايجو ته رسوي.

د پښتو ژبي د قبل الاسلام دورې د څرک ايستلو او پلټني لپاره موږ ناچاره يو چي د تاريخي اعلامو او د ځايو نومونو او د پخوانو ژبو ډېر ليکو (کتيبو) ته ښه ځير سو او دغه خپل مطالعات د تاريخي حقايقو په سيوري کښي هغه ځای ته ورسوو، چي په پای کښي يوه مثبته علمي نتيجه څني واخلو.

تر اسلام دمخه پښتو موږ ته نه ده معلومه چي څنګه وه؟ او چيري وه؟ او په څه توګه ويله کېده؟

زموږ دا مطالعات او پلټني بايد د حقيقت د ښکاره کولو او د علم او بصيرت په رڼا کښي وي. او که فرضاً زموږ د عقېدې پر خلاف بل

څوک علمي کلک دلايل ووايي، بايد هغه واروو، او خپله نظريه ترميم او تصحيح کړو.

زه په دې کرښو کښي ځيني ژبني او تاريخي دلايل د خپلي مفکورې په ټينګار او څرګندونه کښي سره راټولوم او که نور ښاغلي پوهان، کوم بل نظر ولري په دلايلو سره ئې رد يا تاييد کولای سي.

د بغلان نوم په دغه اوسنۍ جوله د اسلامي دورې د جغرافياوالو په ليکنو کښي مونږ ته را رسيدلئ او خلک ئې هم اوس بغلان بولي. له پخوانو جغرافياوالو څخه اليعقوبي (البلدان ص ۵۱) او اصطخری او ابن خرداذبه په مسالك الممالك کښي او المقدسي په احسن التقاسيم (ص ۳۰۳) او ابن حوقل په صورة الارض (ص ۴۲۹) او حدودالعالم (ص۶۱) او البيروني په قانون مسعودي (اتم باب) او د تقويم البلدان خاوند (ص ۴۴۷) بغلان په دغه اوسني شکل راوړي، او دا ښکاري چي په اسلامي دوره کښي هم دغه املا او نوم عام وُ، بل رنګ ئې نه درلود.

## نوې رڼا :

د حفرياتو او تاريخي پلټنو علم لکه په ټوله دنيا کښي چي ئې زاړه خزاين کشف کړه او انسان د خپلو اسلافو د تاريخ په ورکولو او زړو پاڼو ردوړ سو زموږ په هيواد کښي ئې هم ځيني نوي نوي رڼاوي پيدا کړې.

په دې وروستيو څو کلو کښي د فرانسې يوې علمي ډلې د بغلان د سره کوتل زړه ور وشانه او له هغه ځايه ئې د يوه قديم مزدک او معبد آثار او وداني راوايستلې.

په دغو قديمو ودانيو کښي د کوشانيانو د يوه لوی شهنشاه کنشکا څو کتيبې هم پيدا سوې، چي خط ئې مات يوناني او ژبه ئې يوه

محلي ژبه ده او لکه ددې آثارو څرګندونکي موسيوشلوم برژه چې وويل : ددغو نوشتو له ژبې مونږ اوس د پښتو مقايسوي څېړني له دوهمي مسيحي پېړۍ او د سره کوتل له پيدا سوو آثارو څخه شروع کولای سوای.

ددغو نوشتو تحليل او لوستنه البته ډېر ګران کار دئ، او تراوسه لا هم د اروپا لوی ژب پوهاند لکه هيننګ او بنو ينست او نور د هغوي په لوستو کښې سره متفق نه دي. او ځيني کلمات ئې بالکل مبهم پاته دي مګر په عمومي ډول د دغو نوشتو په کلماتو او ترکيب او جمله بندۍ او اعلامو او نومو او ګرامري خصوصياتو کښې دا ښکاري چې تر اسلام شپږ پېړۍ دمخه دغي ژبې چې علماء ئې اوس عجالةً باختري ژبه بولي د پښتو سره ډېر نژدې والی درلود، او که دغه نوشتې ټولي ولوستلي سي ممکنه ده چې د پښتو پرقديم شکل باندي مونږ ته ښه معلومات لاس ته راسي. او د موسيو شلوم برژه په قول بايد اوس مونږ د پښتو مطالعات د مسيحي پېړيو له اوايلو څخه شروع کاندو.

له دغو نوشتو څخه يوه وړه درې ليکيزه نوشته ده چې کلمات ئې ټول په يوناني رسم الخط لوستل سوي دي، او بله ۲۵ ليکيزه لويه نوشته ده چې اوس دکابل موزيم په ننوځی کښې نصب سوې ده او هر څوک ئې ليدلای سي.

په دواړو نوشتو کښې د بغلان قديم نوم په دغه اوسني شکل نه دئ او نه د اسلامي دورې د جغرافياوالو په ډول ليکل سوئ دئ. بلکې دا نوم په دواړه نوشتو کښې بغولانګو يا بغولنګ دئ، چې د فروفيسر هيننګ په قول په سغدي ژبه کښې بغدنګ يا بغدنج وُ، او په زړه پاړسو کښې د بغدانګه د آتشګدې په معنی موجود وُ.(۱)

## چيني روايت :

د (۶۲۹ م ) کال د مارچ په آخرو ورځو کښې د چين يو مدقق زائـر هيون تسنګ د بغلان ښار ليدلئ وُ، دى ليکي چي : فـو _ کيـا _ لـنګ Fo-Kia-Lang شرقاً او غرباً (۵۰) لـى پسـور او شـمالاً او جنوبـاً (۲۰۰) طول لري. پايتخت ئې لس لى محيط دئ. (۲)

چينيان خو د ښارو نومونه پر خپله لهجه برابر ليکي مګر د کلمـې د هجاوو له مطابقته ښکاري، چي د چيني فو_کيـا_لـنګ هغـه د کتيـبې به _ غو _ لنګ دي.

## د کلمې تجزيه :

د کلمې قديم شکل خو د کوشانيانو په عصر کښـې تقريبـاً دوه زره کاله پخوا بغولانګ = بغـولنګ = بغـدنګ = بغـدنج وُ، چـي د پخـواني پاړسو بغدانګه او د چيني فوکيـا لـنګ ئـې هـم ځينـي ليـري صـوتي اوښتني وې.

ددې نوم لومړى توته بغه يا بګه ده چي د پخوانى پاړسو بګه Baga د اوستا بغه او بګه ، د سنسـکريت بهګـه او د روسـي بـغ ئـې مـوږ تـه د پخواني اصالت بولګه راښئي، او معنى ئې په ټولو ژبـو کښـې (خـداى) وُ، د زړې پاړسو (فرس قديم) ډېر لرغوني کلمات په دغه کلمـه شـروع کيږي، مثلاً : بګابګنـه (د يـوه فارسـي پـلار نـوم)، بګـه بوخشـه (يعنـي خدابخش د داريوش يو ملګري وُ چي نوم ئې په عيلامي کښې : بـه قـه بو اوک شا، او په اکادي کښې : به قه بو کى سو او پـه يونـاني کښـې : ميکابوزوس وُ). بګه يا دى (يعني د خداى د يادولو مياشت، چي د کال اوومه مياشت وه، او په عيلامي کښې : بګى اى آتش، او په اکادى کښې

تشریتو وه (۳) او اوس موږ په پښتو کښې هم د قمري کال اوومه میاشت : د خـدای میاشـت بولـو). د وندیـداد پـه ۱۹ فرگـرد کښـي بغوداتـه (خداداد) راغلي دئ، او په تشتریشت کښي بغوبخته (خدائی بختـور) ؤ. (۴)

په یسنا کښي بغان یشت ؤ او د اوستا یو ټوک بغ نسک نومیږي. (۵)

په یسنا کښي وایي : چي جمشید د آذر فروبغ اورتـون پـه خـوارزم کښې جوړ کړ او وروسته دغه اورتون کابلستان تـه یـووړل سـو، او پـه روښان غره کښي ئې وساته، (۶) جوالیقي تصریح کوي چـي د بغـداد نوم عجمي دئ یعني د بغ عطیه، چي بغداد او بغدین هم له دغه ډولـه دي. (۷)

ځیني قدیم د ښارو او ځایو نومونه هم دغه ریښه لري، لکه بـغ پـور (فغفور معرب)، بغستان (د فارس بیستون) ، بغشور (د مرغاب د وادی یـو ښار) ، بغنی او بغران (په اوسني زمینداور کـي) ، بغـار ( د دایزنگـي پـه بهسود کښي)، بغـوی (د سـرپل)، بغـک (د سـمنگان)، بغیـار (د کـرم)، بغاوردان ( د هرات).

په پښتو کښي تراوسه هم بگی د عظیم او لوی په معنی موجـود دی په کندهار کښي وایي پلانی بگ سړی دئ، یعني لوی بدن لري، جسیم دئ، داسي ښکاري چي د پښتونخوا په غرب کښي د کلمې تلفظ بغ او په شرق کښي بگ ؤ، په سنسـکریت کښـي هـم بهگـه ؤ، چـي د ځینـو لرغونو نومو په سـر کښـي سـته لکـه : بگـرام، بگرامـی (کابـل)، بگـل (هرات)، بگلا (غزني)، بگ لـک (دایزنگـی)، بگـه پـای (تالقـان)، بگـی (ترنک) . (۸) شمس الدین کاکړ د ۱۲۵۰ ه کال په شاوخوا کښـي پـه کندهار کښي ژوند کاوه دی په یوه غزل کښي چي ټول بیتونه ئـې پـه یای کښی ماقبل مفتوح (گ) لري وایي :

هسې شوم طـــالع زما دئ
باطن وور په ظاهر بگ (۹)

**په پارسي ادب کښي هم دغه کلمه په دغه معنی موجوده ؤ، مولانا بلخي وايي :**

از چه دمْ از شاه و از بـــــگ میزنی
در هوا چون پشه را رگ میزنی (۱۰)

**د محمود کاشغری له نوښتو څخه ښکاري چي دغه بـگ د اميـر او مشر په معنی په تورکي کښي هم دخيل سوئ ؤ (۱۱)، او ناصر خسرو هم په تورکي نومو کښي داسي راوړئ دئ :**

خاتون و بگ و تگین شده اکنون
هر ناکس و بنده و پرستاري (۱۲)

**مگـر مـوږ گـورو چـي دا کلمـه پـه قـديمو آريـايي ژبـو اوسـتا او سنسکريت او فرس قديم کښي وه، د هخامنشيانو په لرغونو نوشتو کښي مکرره استعماله سوې ده، نو په همدغه دليل حکم کـوو چـي دا کلمـه په مسيحي لومړيو پېړيو کښي چي پـه بـاختر او تخـار کښـي آيـارئي او هفتالي (ابدالي) سپين خانان (هونان) سره گډ سول، تورکی لهجـو تـه تللې ده، ځکه چي د باختر او تخارستان آريائي هفتاليو د ماوراء النهر له تورکانو سره تر ختن او کاشغر پوري ثقافي روابط لرل او د دوی د ژبـو د کلماتو مبادله او اختلاط يوه طبيعي خبره ده.**

**اما د کلمې دوهم جز (انـگ) دئ، دا کلمـه هـم خـورا لرغـونې ښکاري، او د ډيرو ځايو د نومو په پـای کښـي سـته، لکـه : سـالنگ (د هندوکش پـه زړه کښـي)، يکـاولنگ (دايزنگـي)، بشـلنگ (د هلمنـد د ناوې)، اليش انگ (د لغمان)، اولنگ (د سالنگ په منځ کښي)، مستنگ (بلوچستان)، زرنگ (د سيستان)، پوشنگ (د هرات غرب تـه)، گيـرنگ**

(دمرو)، وارنگ (په غور کښې)، چې غربی جغرافیاوالو دغه انگ په معرب انج تبدیل کړي وُ، لکه : فوشنج، مستنج، زرنج، بشلنج، جیرانج او نور. (۱۳)

د پروفیسر هیننگ قول دئ چې دغه انگ (انج) د آتشکدې مفهوم لاره، او د بغلان د سره کوتل په کشف سوي معبد کښې چې کوم اورتون موندل سویٔ دئ ددغه مفهوم ښکاره دلیل دئ، او د هندوکش د درو د پاچهانو پر مسکوکاتو چې د آتشکدې شکل منقوش وُ، هم دغه انگ ښکاره کوي.

وروسته دغه انگ په پهلوي اتهر یا آذر تبدیل سو او په پهلوي کتابو کښې چې (آذر فروبغ) د اورتون نوم د کابل پر روښان غره یاد سوئ دئ (۱۴) هم موږ ته لرغونئ انگ یعني اورتون را په یادوي.

ددې خبري لپاره موږ یو بل دلیل هم لرو، چې په اوستا کښې دغه اوسنی کلمه دوزخ د (دژانگه) په شکل موجوده وه، دژ یعني زشت او بدچې دغه ریښه په دشنام او دشمن کښې هم سته، انگه یعني اورچې جمعاً دژانگه یعني (زشت اور) (۱۵) سي. ځکه چې د اور پرستش د زردشت له عصره له اباسین څخه بیا تر دجلې پوري په ټول لرغوني ایران کښې جاري وُ، نو د ځایو نومونه هم د اورتونو په نامه مشهور سوِل، په شرقي خواو کښې انگ وُ، خو په غربي برخو کښې ئې پر ځای آذر درېدلئ وُ.

## *انگ په پښتو کښې* :

په پښتو کښې د انگ ریښه په ډېرو کلماتو کښې وینو، د انگار، انگاره لومړی توته دغه انگ دئ، او معنی ئې هم بل او ځلان اور دئ. انگل په پښتو ښور او حدت ته وایي، چې د اور صفت دئ.

انګازه د تيزۍ او حدت په نسبت دغه ماده لري. انګولا هـم تېـز ږغ دئ، د انګريـزي Angers (خشـم) Angry (خشـمناک) هـم د تېـزۍ او حدت په تقريب دغه ريښه بايد ولري، او د Angel (فرشـته) بـه د نـور او رڼا په مناسبت له دغي ريښي سره پيوستون لري.

په پښتو کښي ذ ملا فيض الله کاکړ يو بيت دي. دا سړی د احمدشاه بابا معاصر د ږوب او د کسي غره د لمنو اوسېدونکئ وُ ، دی وايي :

زړګی بند کړمه په منځ د پاڼ و پړانګ
سوځي زړه لکه پيلوځئ په بلانــــګ

دلته هم بلانګ پښتو مرکبه کلمه ده بل انګ يعني بل اور.

دغه انګ د زماني په تېرېدو په ځينو نومو کښي په (آن) تبـديل سـو. لکه ګلران سـمنګان، بدخشـان او نـور ... ددې تبديلـۍ لپـاره هـم يـو تاريخي سند سته، داسي : په چيني کتابو کښي دوه قرنه تر ميلاد دمخـه د بدخشان نوم (تشه ـ تګ ـ لنګ) راغلئ وُ، وروسته د هيون تسـنګ پـه سفرنامه کښي (پو ـ تو ـ چنګ ـ نه) سـو، خـو چـي د يـو ان شـي پـه ادبياتو کښي دا نوم (به ـ ده ـ هه ـ شنګ) سو (۱۶)، او دغـه د کلمـې آخيره ټوټه وروسته په (آن) تبديل سوه. خو په ځينو نومو کښي په هغـه خپـل لرغـوني شـکل پاتـه سـوه، لکـه د کنـدهار د شـمال د خـاکريز غوردنګ يا د سړوبي د نغلو دنګ (۱۷) يا د اشتر ګرام او لغمان تـر مـنځ بادنج (۱۸) او د کوهستان سولانګ کوتل، چي دغه نومونه هغه لرغوني ريښي لري.

نو په دې ډول لرغوني بغولنګ يا اوسنی بغلان او د سغدي بغـدنګ داسي تجزيه کيږي : (بغو + د + انګ) يعني ( د خـدای اور) يـا (خـدائی اورتون).

**تبصره :**

د لرغونې پښتو اضافي ترکیب به داسي ؤ، چي د اضافت نخښه د مضاف او مضاف الیه په منځ کښي راتله. او دغه (د) هم په لام اوښتې دئ چي ډېر نور نظائر هم لري.

ددغه مقلوب اضافي ترکیب لرغونې نخښې په تاریخي اعلامو کښي ډیري دي ا ودا بېل بحث دئ، چي دلته زمور خېړنه اوږدوي، او زه ئې بل وخت ته پرېږدم.(۱۹)

## لمن ليکونه


۱. وګورئ ! آريانا، اسد ۱۳۳۶ ش
۲. سي _ پو _ کي د هيون تسنګ سفرنامه، ص ۱۵۰ د بيل ترجمه
۳. اولډ پرشن، ص ۱۹۹ د کينت ليک، نيويارک ۱۹۵۳
۴. يشت ج ۲، ص ۱۴۵
۵. يسنا ، ج۱، ص ۲۴
۶. يسنا ، ج۱، ۱۳۲
۷. المعرب من کلام العرب، ص ۷۵
۸. وګورئ د افغانستان جغرافيايي قاموس
۹. ديوان شمس الدين کاکړ د پښتو ټولني طبع، ص ۶۶
۱۰. مثنوي، اول دفتر، ص ۴۸
۱۱. ديوان لغات الترک، ج۱، ص ۵۰ د استانبول طبع ۱۳۳۳ ق
۱۲. د ناصر خسرو ديوان، ص ۴۶۹
۱۳. احسن التقاسم، ص ۳۰۶، ۳۱۲، او اصطخری ۲۳۹
۱۴. بندهشن ۱۷ فصل
۱۵. يشت ۲_ ۱۷
۱۶. په چيني منابعو کښې پلټني د پترچ ميدر تاليف، د لندن طبع ۱۸۸۷م
۱۷. د افغانستان جغرافيايي قاموس، ۲، ۹۲ ، او ۴، ۲۲۶
۱۸. اکبرنامه، طبقات اکبري
۱۹. ورمه مجله، ۱۳۴۱ ل کال ، دوهمه ګڼه ص ۱